مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱٦مه | ٤٨٠یمه ګڼه

# د فساد ضد ناکامه مبارزه؛

## جان باس: په افغانستان کې موجود فساد د نړیوالو مرستو د کمېدو لامل دی




۳

### قیصاري او د ارګ د ناوړه معاملو پایلې

۲ مخ

### افغانان او د آزادۍ جګړه

۲ مخ

### د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

۳ مخ

## هېواد

۴ مخ

### جنوبي کوریا

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا او نړۍ له پرمختللو هېوادونو څخه بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



### کرنې ریاست: په ننګرهار کې د لومړي ځل لپاره د چرګوړو د تولید یوې فابریکې پر کار پیل وکړ



د ننګرهار د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې په دغه ولایت کې په لومړي ځل د چرګوړو د تولید یوې فابریکې پر کار پیل وکړ، چې په دې سره به له پاکستان څخه د چرګوړو په وارداتو کې شل سلنه کموالی راشي.

د ننګرهار د کرنې سرپرست ضمیر بهسودي ویلي، دغه فابریکه چې د خصوصي سکټور له خوا جوړه شوې، په میاست کې د ٦۰۰ زرو چرګوړو د تولید وړتیا لري. هغه زیاته کړې چې د ننګرهار د کرنې ریاست هڅه کوي چې د چرګانو د روزنې په برخه کې سوداګرو ته اسانتیاوې زیاتې کړي.

په ورته وخت کې د دې فابریکې مشر عزیزالله حسام د فابریکې د پرانیستې پر مهال ویلي، تر پخوا په کور د ننه د چرګانو روزنې برخه پیاوړې شوې او دا ډول فابریکې کولی شي له پاکستان څخه د چرګوړو په وارداتو کې د پام وړ کموالی راولي.

### الجزیره: ښایي د داعش ډلې نیمایي جنګیالي لاهم په افغانستان کې وي

الجزیرې- انګلیسي په یوه تازه راپور کې ویلي، سره له دې چې افغان او امریکایي ځواکونو په ګډه داعش ډله ځپلې ده، خو داسې اټکل کېږي چې د دې ډلې نیمایي جنګیالي به لا هم په افغانستان کې فعال وي.

د سرچینې په خبره، ویل کېدل چې د داعش ډلې څلور زره کسیزه ډله په افغانستان کې فعالیت کوي چې ښايي له دې ډلې نیمایي یې اوس هم په افغانستان کې فعال وي.

په راپور کې وړاندې راغلي چې د هوا د سربېدو له امله هم ښایي د داعش ډلې په فعالیتونو کې کموالی راغلی وي، نو له همدې امله افغان او بهرنیو ځواکونو ته پکار ده چې د دې ډلې پر ضد عملیاتو ته ادامه ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې افغان او امریکایي چارواکو خبر ورکړ چې داعش ډله په بشپړه توګه په افغانستان کې ختمه شوې ده.

د یادونې ده چې په عراق او سوریه کې د اسلامي دولت ډلې له راپورته کېدو او پرمختګ وروسته، دې ډلې د افغانستان په ختیځ کې هم فعالیتونه پیل کړل چې تر دې دمه یې ډېر بشري جنایتونه کړي دي. ویل کېږي چې د دې ډلې ډېری جنګیالي د بهرنیو هېوادونو غړي دي چې یوې برخې یې په عراق او سوریه کې له ماتې وروسته افغانستان ته مخه کړې ده.

### ټرمپ به راتلونکي اونۍ له افغانستانه د څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو اعلان وکړي




۵ مخ

### وزارت عدلیه: دربارۀ قانون حمایت از کودکان با علما و حقوق دانان مشوره شده است



در پی جنجال‌ها بر سر تصویب قانون «حمایت از کودکان» از سوی ولسی جرگه، وزارت عدلیه می‌گوید که در هنگام تسوید این قانون با تمامی نخبه‌گان کشور و نهادهایی چون شورای علما و حقوق‌دانان گفت‌وگو شده بود.

اشرف خان عظیمی، معاون نهاد امور قانون گذاری وزارت عدلیه می‌گوید که این قانون برای دفاع از کودکان و ایجاد سهولت‌هایی برای کودکان آماده شده‌است، اما هرگاه کودکی در سنین زیر هژده سال به بلوغ می‌رسد، این قانون مانع ازدواج او نمی‌شود.


به گفتۀ عظیمی، بربنیاد روش قانون گذاری از پنجاه سال به این سو در چندین سند قانونی پایان سن کودکی هژده سال مشخص شده‌است: «این مسوده با تمام مراجع عدلی و قضایی شورای علما و اهل خبر و اشخاصی که آن‌ها دانش کافی فقهی داشتند، با همه اقشار جامعه شریک ساخته شده».

این در حالی است که قانون حمایت از کودکان، هفتۀ پیش از سوی ولسی جرگه تصویب شد؛ اما پسان‌تر شماری از وکلا با این قانون مخالفت نشان دادند.

در این قانون، سن کودک هژده سال تعیین شده‌است؛ اما وکلای مخالف می گویند که بخش‌هایی از این قانون در مخالفت با اسلام است. در عین حال کمیسیون مستقل حقوق‌بشر، از اعضای ولسی جرگه خواسته است که اختلاف‌های شان را دربارۀ این قانون حل کنند.

این کمیسیون، هشدار می‌دهد که اگر این قانون عملی نشود و حکومت از اجراآتش به میثاق‌های جهانی حقوق کودکان گزارش ندهد، کودکان افغانستان پشتیبانی جهانی را نخواهند داشت.

Aksos
اکسوس کتاب‌پلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریــځ

# قیصاري او د ارګ د ناوړه معاملو پایلې

په بلخ کې د نظام الدین قیصاري پر ضد امنیتي ځواکونو عملیات وکړل. په دې عملیاتو کې لومړی پولیس وکارول شول، خو وروسته ځانګړي ځواکونه او کوماندو هم وکارول شول. آن چورلکې وکارول شوې، هوایي بریدونه وشول او تر ۲۴ ساعتونو زیات دې جګړې دوام وکړ. دا نښته د رسنیو د سر موضوع شوه، په مزارشریف کې یې ښاریان ناارامه کړل او مالي زیانونه یې ور واړول. دغه راز امنیتي ځواکونو ته هم مرګ ژوبله واوښته.
د نظام الدین قیصاري اصلي ستونزه او لانجه څه ده او حکومت ورسره څه ډول چلند کوي؟ نظام الدین قیصاري د خپل سرو ناقانونه وسله والو مشر دی، چې د بې ګناه خلکو پر وهلو، ځورولو، وژلو او له خلکو پر باج اخیستلو تورن دی. د افغانستان د قوانینو پر اساس، هغه باید ونیول شي، محاکمه شي او د خپلو کړنو سزا وویني. نظام الدین قیصاري پخوا د همدغو تورونو پر اساس ونیول شو، په نیولو کې یې هغه وخت هم امنیتي ځواک وکارول شول، آن امنیتي ځواکونو ته مرګ ژوبله واوښته. د هغه د نیولو په غبرګون کې لاریونونه وشول، حکومت عدالت تر پښو لاندې کړ، سیاسي معامله یې وکړه، هغه یې خوشې کړ او د خپلو سرتېرو وینې یې به ارزښته کړې. قیصاري له نیول کېدو وروسته بیا وپرسول شو، پر هغه وسله وال را ټولېدل، خو حکومت یوازې ورته کتل. وروسته چې کله بیا د اشرف غني او عطامحمد نور تر منځ سیاسي جوړجاړی وشو، بیا د قیصاري پر ضد عملیات وشول، بیا واک او ځواک وکارول شول، وېره او وحشت خپور شو او په ښار کې پر یو ناقانونه وسله وال او تورن هوایي بریدونه وشول.
حکومت باید ځواب ووايي چې هغه وخت یې قیصاري ولې ونیوه؟ ولې یې بېرته خوشې کړ؟ ولې یې دوسیه عدلي او قضایي ارګانونو ته ولاړه نه؟ دوی د هغو سرتېرو کورنیو ته څه ځواب لري چې د قیصاري په نیولو کې ووژل شول؟ ولې عدالت بیا بیا د اشرف غني د شخصي معاملو لپاره قرباني کېږي؟ ولې د امنیتي ځواکونو وینه د اشرف غني د سیاسي معاملو لپاره تویې شي؟
اوس به قیصاري او بل جنایتکار ونیول شي، خو بیا بیا او بیا هم د عدالت د زندۍ کولو او معاملې امکان شته. اشرف غني پر یو بل وحشي جنګسالار علي پور هم همداسې معامله وکړه. تر هغو چې اشرف غني په واک کې وي، پر عدالت، د امنیتي ځواکونو پر وینو، د بې ګناه خلکو پر وینو، حیثیت او عزت به همداسې لوبې کوي. د قیصاري معامله یوه حقوقي مسئله وه، دا کیسه باید سیاسي شوې نه وی، دا کیسه باید اشرف غني او نورو جنګسالارانو د معاملې موضوع نه وی. دا باید یوازې یوه حقوقي موضوع وی. پر قیصاري باید عدالت عملي شوی وی، هغه باید د بې ګناه خلکو د ځورولو، وهلو، وژلو او له خلکو د باج اخیستلو جزا لیدلې وی. له بده مرغه په واک کې یو داسې حریص او د واک وږی انسان دی چې پر هر څه معامله کوي. د قیصاري کیسه د ارګ او اشرف غني د ناوړه سیاستونو او چټلو معاملو یوه روښانه بېلګه ده. دا واکمني خوسا شوې، د معاملو او ناوړه کارونو بویونه یې له کنټروله وتلي. له قانون، عدالت، د خلکو له حقونو او د امنیتي ځواکونو له وینو سره د دغه خیانت مخه باید ونیول شي. پر ناقانونه شخصي شرکت اوښتی حکومت باید بېرته ملي، ولسي او قانوني شي.

# افغانان او د آزادۍ جګړه

لیکوال: قاضي نجیب الله جامع

د آزادو ملتونو نیول او د هغوی پر ارزښتونو د تاړاک بحث د نن خبره نه، بلکې له یوه لرې پرون څخه را پیل شوی داسې کرغېړن فکر دی چې د بنې، شعارونو، تکتیکي کردارونو او عاطفي زماني بحثونو په دوام کې یې تل خپل ناروا اهداف پاللي، د انسان کرامت، امنیت او پایښت یې له ګواښ سره مخ کړی او په ټوله کې بشري نړۍ او د انسانانو ګډ تمدني ماضي یې له دربدریو، ساندو، کړیکو او ماتمونو ډکې راتلونکې ته په میراث پرېښې.
دغه شریر ځواکونه چې د هرې زمانې، تاریخ او د انساني نړۍ په یوه برخه کې واقع شوي، لکه پر ګران وطن افغانستان د تزاري روسانو پرونی او د امریکایانو اوسنی یرغل، نو د خپلو شومو، شیطاني او ناوړو موخو د سم ښودلو لپاره یې عجیب او غریب نومونه، عنوانونه او دلایل تراشلي دي.
د بېلګې په توګه، د یرغلګرو اروپایانو ټولیز مهاجرتي کوچېدنه نوی کشف شوی امریکا ته او هلته د استثماري پالیسۍ له مخې، د بومي سور پوستکو امریکایانو د وطن اشغال، د ځمکو غصب، د هغوی د نسلي پاکونې هڅې چې پایله یې نن د اروپایي کلتور پر بنسټونو د یوې ستر جغرافیې پردۍ کېدل دي.
دغه نیواکګر اروپایي الاصله امریکایان چې وتوانېدل د امریکایي براعظم اصلي وګړي سور پوستکي د وژلو، ربړولو او شړلو پر تهذیبونو ختم او پر یو میلیون لړکۍ واړوي، نو د دې ټولو بدمرغیو او جینوسایډۍ کړنو د توجیه لپاره یې امریکا بې وګړو جنت بللې، د خپل ځان د حق ښودلو په توګه یې بومي سور پوستکي امریکایان وحشیان، بې فرهنګه او حیواني موجودات یاد کړي.
د دې تر څنګ، د فرنګي انګریز استعماري امپریالېزم یرغل د هند براعظمګی او هلته د مغولي واکمنیو نړول، استثماري سیاستونو پلي کول، د هندي ملت د شتمنیو چور، پر هغوی د ملا ماتوونکو مالیو وضعه، د هند له انساني ځواک څخه په خپلو خطرناکو جګړو کې د بې نومو او بې هویتو وړیا عسکرو په توګه ګټه اخیستل او د دې ټولو ناکردو د پټولو او سم بللو په برخه کې ډېر انګلیسي اسناد ښیي، چې دوی داسې هېڅ څه هم نه دي کړي، بلکې دوی هند ته د خپلو اخلاقي مسوولیتونو د سرته رسولو، له هندیانو سره کور، کالي، ډوډۍ او دفاع په لار کې د بشري همکاریو لپاره تللي وو.
په نږدې تاریخ کې د دې ملموسې کړنې ښې بېلګې مسلمان عراق او ګران افغانستان هم دي.
امریکا پر عراق او افغانستان د برید لپاره چې اخلاقي جواز پیدا کړي او بیا وشي کولای د برید پر مهال خپل ملت، متحدین او نړۍ له ذهني پلوه دې جګړې ته چمتو کړي، یو لړ داسې له درواغو او افتراه ډک سیاسي او استخباراتي تماشه رامنځ ته کړه چې ویې کولای شوای نیمه نړۍ تر خپل څنګ ودروي.
د بېلګې په ډول، دا چې عراق لویې ګواښوونکې وسلې لري او دا دروغ یې دومره وشاربل او ویې پړسول چې پر امریکا او اروپا سربېره، ډېرو اسلامي ـ عربي هېوادونو لکه د خلیج شورا یې له ځان سره د خپل مسلمان او عربي ورور عراقي ملت پر وړاندې ودروله، له دې وروسته د دروغو د لا پخولو او سوچه ښوولو لپاره د امریکا خارګرې ادارې سي ای اې په دې اړوند له پروپاګنده ډک راپورونه خپاره کړل او د امریکا د دفاع وزیر کولن پاول خو د دروغو دغه دوسیه د ملګرو ملتونو تر تالاره هم مخکې یوړه.
مګر په اخر کې ثابته څه چې خپله امریکایانو ومنله چې په عراق کې نه کیمیاوي وسلې وې او نه عراق چا ته ګواښ و؛ بلکې دا ټوله لوبه چې په پایله کې یو پرامنه، پر ځان بسیا، متحد، له نړیوالې ټولنې سره همکار او ځواب ویونکی عراق او دولت یې مات کړل، دې دوو موخو لپاره دا هرڅه وشول چې یو یې د عراق د تېلو پر زېرمو او چاڼځایونو د امریکا ولکه ټینګه‌ول وو او بل د اسراییلو د امنیت او د صهیونیستي امپریالېستي طرحو پر وړاندې د صدام په مشرتابه، د عربي ـ اسلامي عراق خنډ اوسېدل، د یوه نظام او پر ځان متکي ملت په توګه وو.
پر ګران وطن افغانستان د امریکا بې شرمانه، له استکبار، جنایت او وحشته ډک یرغل چې اصلي ریښه یې د امریکایي اسنادو پر بنسټ، تر سړې جګړې مخکې د اروپایي نظم او امریکایي ګټو پر غرض ګرځي، هم په تاریخ کې د امریکا او نورو یرغلګرو زبرځواکونو د هغو ناوړه سیاستونو یوه برخه ده چې هېڅکله د زور او زر په مټ روانه پروپاګنده‌یې د کرغېړنو او غلطو موخو له بدرنګوالي څخه نه شي کمولای.
د بېلګې په توګه، د امریکایي ډالرو پر زور چلېدونکو رسنیو او د هغوی اجیر شوي او تطمیع شوي کرایي ملاتړو د امریکا له اشغالګرانه شتون څخه ډک وجود ته نږدې دوې لسیزې په خپل ټول توان سره هڅه وکړه، چې د طالبانو او افغان ملت دا داعیه یو کمزوری او له ځانه جوړ کړی قرائت وښیي چې امریکا افغانستان ته د یوه ناروا یرغلګر په توګه نه؛ بلکې له یو اخلاقي حیثیت سره د افغانستان د ودانولو، په افغانستان کې د یوه افغاني نظام د ملاتړ او په ټوله کې پر ځان بسیا افغانستان د جوړونې لپاره راغلې؛ خو له طالبانو سره د امریکا پرله پسې مذاکراتو او په یوه له مستنداتو ډک ګام کې د واشنګټن پوسټ هغه افشاګري ده چې ښیي امریکایي جنرالانو څنګه ماتې وخوړه، د ماتې دلایل یې څه وو او د امریکا موخې په افغانستان کې دې څه سبب شوې، څو درې امریکایي ولسمشران خپل ملت ته د خپل تاریخ د تر ټولو اوږدې جګړې اړوند درواغ ووایي، د هغوی شعور ته سپکاوی وکړي او په خپلو دغسې بې مانا او بې مسوولیته کړنو سره د نړۍ نظم او سکون ته بې کچې زیان ورسوي.
د واشنګټن پوسټ دغو تاریخي اعترافونو څرګنده کړه چې له ټولو بمونو، ټانګونو، ربړونو، ځورونو او وحشتونو سره سره امریکا نن دا حقیقت درک کړی چې په جګړه کې یې ماتې خوړلې، وجود یې هېڅ اخلاقي جواز نه لري او دا ماتې خوړل تاریخ ته د ماتې خوړو په مانا دي.
د دې ټولو وحشتونو مسووله ځکه امریکا ګڼو چې تل ظالمانو د مبارزې بېلګې ټاکلې دي، نه مظلومانو. ځکه مظلوم خو یوازې له خپل ځان څخه چې آزادي او د خپل ملت کرامت دی، دفاع کړې؛ نه د نورو ملتونو پر حیثیت او وقار یرغل.
هغه څه چې د دغو اعترافونو د دوام او دا چې وښیي د طالبانو په مشرۍ روان مقاومت مشروع، د افغان ملت ملي داعیه او په ټوله کې طالبانو تېرې دوې لسیزې مبارزه واقعاً هم د آزادۍ جګړه ده، د واشنګټن پوسټ له لوري د ۲۰۰۰ پاڼو اسنادو پر دوام د امریکایي لوړپوړو پخوانیو چارواکو او د افغان ـ امریکا جګړې په جریان کې د ښکېلو عسکرو بوږنوونکي او تاریخي اعترافونه دي.
د بېلګې په توګه، په افغانستان کې د امریکا پخواني سفیر راین کراکر واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته په خپله تازه مقاله کې لیکلي: «افغانستان امریکا ته دویم ویتنام شو، زموږ بې سارې مرستې یوازې فساد رامنځ ته کړ او غوښتنه یې کړې چې ژر تر ژره باید موږ خپل سرتېري را وباسو».
همدارنګه د افغانستان د چارو مشهور امریکایي څېړونکی او لیکوال یریک مارګولیس، د ډسمبر په ۱۴مه لیکي: «په ۲۰۰۱ ز کال کې د افغانستان د اشغال په جریان کې زه هلته وم. هله د استکباري او متکبرې امریکا جهالت او وحشت د یوه ستر درانده نظامي قوت تر شا پټ و. ما هلته هم دا باور لاره چې پر افغانستان باندې حمله د سپټمبر د یوولسمې د حملو په انتقام کې کېدله. امریکا ادعا کوله چې د اسامه بن لادن تروریستي کمپونه په افغانستان کې دي. دا ټول درواغ او فریب وو؛ ځکه د سپټمبر د یوولسمې حملې په افغانستان کې نه وې پلان شوې».
ښاغلی مارګولیس لیکي، طالبان تروریستان نه وو. هغوی په سپکو وسلو سمبال قبایلي جنګیالي وو، چې د امریکا په ملاتړ د افغان غلو، قاچاقبرانو او د افغان کمونیستي استخباراتو پر ضد جنګېدل.
د امریکا په زور د کابل نصب شوی رژیم د سي ای اې څو تر وخت تېر جاسوسان، وحشي جنګسالاران، د مخدره موادو څو مشهور قاچاقبران او څو بګېل کمونیستان دي. امریکا په دې څو کلونو کې د جنایتکارو او مزدورو وارلاډانو د استخدام لپاره په میلیاردونو ډالر ولګول. په افغانستان کې د جنګي جنایاتو او جرایمو تر ټولو ستر مجرمین د متحده ایالاتو کلک او پاخه یاران دي.
دغه ډول تاریخي اعترافات او واقعیتونه ښیي چې تاریخ به د هغو خلکو څېرې بربنډې او لوڅې کړي چې د یرغلګرو قوتونو ملاتړ یې کاوه، خپل هېواد یې د غلامۍ په ځنځیر وتاړه او د یوه آزاد ملت د ورکولو لپاره یې هر ډول سپکه معامله وکړله.
هغوی چې د امریکا په وجود کې له هېڅ څخه نن رهبرۍ ته رسېدلي، فرعوني واک یې په اختیار کې دی او په پیخرو د ناروا ثروت څښتنان ګرځېدلي دي، شاید د موجوده واقعیتونو درک ورته د تاریخ د بل هر غولېدلي، ځانچاري او بلواکي واکمن په توګه د منلو نه وي؛ ولې دا هرڅه رښتیا دي. تاریخ خپل قضاوت همدا نن لیکلی، د ولس لاره امن او خپلواکي ده او په ټوله کې نړۍ او د یرغلګرو هېوادونو ملتونو د افغانانو ولسي داعیه د بهرنیانو ناروا شتون او د همدې کرغېړن وجود پای ته رسول منلي.

## سیمه ییز چارواکي: د ټول افغانستان د نشه يي توکو د ټرانزیټ لار پر غنيخېلو ولسوالۍ ده

د ننګرهار د غنيخېلو ولسوال معلم معشوق په یوه خبري کنفرانس کې ویلي، له پاکستانه افغانستان ته او له افغانستانه پاکستان ته د نشه يي توکو ټرانزیټ له همدې ولسوالۍ کېږي، چې له امله یې دا ولسوالي د نشه یي توکو په نوم بدنامه شوې ده.
نوموړي ډاډ ورکړی چې په دې ولسوالۍ کې د کوکنارو او نورو نشه یي توکو کښت یې صفر ته رسولی، خو دا چې له پاکستان سره ډیورنډ فرضي کرښې ته نږدې پرته ده؛ نو د نشه یي توکو ټول ټرانزیټ له همدې لارې کېږي.
د شینوارو ولسوال معلم معشوق ویلي، دا ولسوالي ځکه د نشه یي توکو د مرکز په نوم بدنامه ده چې ډیورنډ کرښې ته نږدې پرته ده او له پاکستانه افغانستان ته د نشه یي توکو ټول ټرانزیټ له همدې لارې کېږي.
هغه زیاته کړې: «شینوارو(غنيخېلو) ولسوالۍ په دې خاطر باندې چې چم ګاونډ زموږ دوست هېواد پاکستان چې موږ ته یې نیت ډېر ښه دی، په خوا کې یې موږ واقع یو، د ټول افغانستان د ټرانزیټ لاره همدا ده، د ټول افغانستان مواد مخدر په همدې لارې باندې راځي؛ ځکه موږ پرې بدنام یو».
هغه دغه راز ویلي، په دې ولسوالۍ کې د پوهنې، روغتیا، کرنې، پاکو اوبو ته د لاسرسي او څو نورو برخو کې د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت پروژې بشپړې شوې او ډېرې نورې تر کار لاندې دي، چې په نږدې وخت کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
نوموړي زیاته کړې، د شینوارو ښاروالۍ سږ کال پنځه میلیونه افغانۍ عواید تر لاسه کړي، چې د ولسوالۍ په بازار کې یې د پاکۍ، بیارغونې او څو نورو اړینو برخو کې لګولي دي.


دغه راز د بټي کوټ ولسوال عبدالوهاب مومند هم ویلي چې په دې ولسوالۍ کې بشپړ امنیت ټینګ شوی او هره ورځ ورته له بېلابېلو سیمو څخه سلګونه کسان د سیاحت لپاره راځي.
د ده په خبره، سږ کال په دې ولسوالۍ کې د ۲۴۳ میلیونو افغانیو په لګښت د پوهنې، کرنې، روغتیا، پاکو اوبو، کاریزونو، کانالونو، سربندونو، جوماتونو جوړولو پروژې بشپړې شوې او څو نورې پروژې تر کار لاندې دي، چې ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
هغه زیاته کړې، سږ کال یې ښاروالۍ نږدې یو میلیون افغانۍ عواید درلودل چې د هوایي پول، کټارو، ګلدانونو، سړکونو ترمیم، یو چوک او دوو پارکونو جوړولو او بازار ته د برېښنا او اوبو په ورکړه کې مصرف شوي دي.

# د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د افغانستان د غړیتوب حقوقي ارزونه

لیکنه: اکرام الدین کامل

دریېمه برخه:

د نړیوالې سوداګرۍ له سازمان سره د افغانستان الحاق
د ۲۰۱۵ ز کال د ډسمبر میاشتې په ۱۷مه د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د وزیرانو کنفرانس د رایو په اتفاق سره د افغانستان الحاق ومانه او په دا ډول د سازمان ۱٦۴م غړی شو. افغانستان دغه سفر تقریباً ۱۲ کلونه وړاندې د ۲۰۰۳ ز کال د اپرېل په میاشت کې پیل کړی و. د افغانستان اسلامي انتقالي دولت په ۲۰۰۳ ز کال کې د نړیوالې سوداګرۍ په سازمان کې د غړیتوب تر لاسه کولو غوښتنه وکړه؛ خو هغه مهال یې غوښته رد یا له پامه وغورځول شوه. وروسته د ۲۰۰۴ ز کال د نومبر میاشتې په ۲۱مه افغانستان یو ځل بیا له نوي غوښتنلیک سره عارض شو. افغانستان په خپل غوښتنلیک کې غوښتنه کړې وه چې سازمان دې د سوداګریزې ودې په ډګر کې له دوی سره مرسته وکړي او د دوی غوښتنې ته چې څومره ژر امکان لري رسیده‌ګي وکړي. د افغانستان د دولت له خوا له قید او شرط پرته د غړیتوب له غوښتنې معلومېږي چې شاید هغه مهال افغان پلاوي په سازمان کې د غړیتوب په تړاو هر اړخیز معلومات نه درلودل؛ ځکه یې له یوې مخې د سازمان له عمومي شورا او د وزیرانو له کنفرانس څخه د بلا قید غړیتوب غوښتنه وکړه.
وروسته عمومي شورا د کاري ډلې(working party) د جوړولو لپاره هوکړه وکړه. د سازمان د کاري ډلې مسوولیت دا و، څو د سازمان د موافقې له ۱۲ مې مادې سره سم، د افغانستان الحاق ارزیابي او په دې تړاو خپل پیشنهادونه عمومي شورا ته وړاندې کړي. عمومي شورا په همدې ورځ افغانستان په سازمان کې د ناظر په توګه ومانه. د کاري ډلې له جوړېدو سره سم، افغان حکومت د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت تر نظارت لاندې بین الوزارتي مذاکراتي او کاري ګروپ تاسیس کړ او همدا راز لس مسلکي کسان یې پر دنده وګومارل، څو په سازمان کې د افغانستان غړیتوب تعقیب کړي.
افغانستان تقریباً څلور کلونه مسلسل پر دې کار وکړ، څو د بهرنۍ سوداګرۍ رژیم جوړ او په ۲۰۰۹ ز کال کې یې سازمان ته وړاندې کړي. د افغانستان د الحاق اړوندې کاري ډلې د سازمان له ټولو غړو وغوښتل چې د یوې میاشتې د ننه دې، د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ رژیم اړوندې پوښتنې دوی ته وړاندې کړي. افغانستان د سازمان د غړو هېوادونو له خوا لومړنۍ پوښتنې تر لاسه کړې چې ډېرې یې د اقتصادي پالیسیو، بهرنۍ سوداګرۍ، د هغو پالیسیو د جوړونې او اجرا لپاره چارچوکاټ یا فریمورک چې د توکو او خدماتو پر بهرنۍ سوداګرۍ یې اغېز درلود، د TRIPS، سوداګریزو هوکړه لیکونو او شفافیت په اړه وې چې افغانستان د ۲۰۱۰ ز کال د جولای په میاشت کې د خپل سوداګریز رژیم په اړه لومړنیو پوښتنو ته په لیکلي بڼه ځوابونه ورکړل. د ۲۰۱۰ ز کال د اکتوبر له میاشتې څخه د ۲۰۱۳ ز کال تر اکتوبر میاشتې پورې د سازمان غړو هېوادونو اته ځله بېلابېلې پوښتنې د افغانستان د سوداګریز رژیم په اړه وکړې او افغانستان ځواب کړې.
دا پوښتنې عموماً د دې لپاره کېږي، څو هېوادونه د مقابل هېواد پر سوداګریزو قوانینو پوه شي او هم یې د سازمان له هوکړه لیکونو سره تطابق او عدم تطابق معلوم کړي. او د عدم تطابق پر مهال له نوي یوځای کېدونکي هېواد څخه وغواړي چې په خپلو قوانینو او پالیسیو کې لازم بدلونونه راوړي. افغانستان د ۲۰۱۱-۲۰۱۵ ز کلونو تر منځ له کاري ډلې سره په جنیوا کې پنځه ځله څو اړخیز مذاکرات وکړل. د بازار موندنې لپاره یې د کاناډا، امریکا، اروپایي ټولنې، ترکیې، ناروې، جاپان، تایلېنډ، تایوان او جنوبي کوریا سره دوه اړخیزه مذاکرات وکړل. افغانستان د سازمان له غوښتنو سره سم، د سوداګریزو قوانینو جامع پلان له سازمان سره شریک کړ. د پلان له مخې افغانستان د سازمان د هوکړه لیکونو اړوند ۲۲ قوانین تصویب کړل او ۳۸ نورې مسودې (نوي قوانین او تعدیلات) یې پارلمان ته د تصویب لپاره وړاندې کړل. (اوسمهال تقریباً دغه ټول قوانین تصویب او توشیح شوي دي او په هېواد کې نافذ دي).
افغانستان همدا راز د مذاکراتو پر مهال ۱٦ توافقنامې بازار ته د لاسرسي په اړه وکړې، چې ۹ یې د توکو او ۷ یې د خدماتو په اړه وې. همدا راز یې د تعرفو د کمولو په لړ کې پر ټولو تجارتي محصولاتو ۱۳.۵ سلنه اوسطه تعرفه، پر زراعتي محصولاتو یې په اوسط ډول ۳۳.٦ سلنه او په غیر زراعتي محصولاتو یې په اوسط ډول ۱۰.۳ سلنه تعرفه وضع کړه. پر دې سربېره، افغانستان ژمنه وکړه چې سازمان ته له الحاق سره به د معلوماتي ټکنالوژۍ هوکړه لیک ته هم الحاق کوي. د یاد هوکړه لیک له مخې هېوادونه د معلوماتي ټکنالوژۍ پر اړوندو محصولاتو تعرفې صفر تهښکته کوي. افغانستان همدا راز یوازې پر ۲۴۳ اقلامو صادراتي تعرفې وضع کړې دي چې له دې جملې څخه په ۲۹.٦ سلنه اقلامو یوازې ۱۰ سلنه او پر ۲۴.۲ سلنه اقلامو ۲.۵ سلنه تعرفې دي. د خدماتو په برخه کې افغانستان په ۱۱ سکټورونو او په ۱۰۴ عضوي سکټورونو کې بېلابېلې ژمنې وکړې. د بېلګې په توګه، د افغانستان یوه ژمنه دا هم وه چې بهرنیو اتباعو یا حقوقي اشخاصو ته به د دې حق ورکول کېږي چې په افغانستان کې له دولت څخه تر ۹۰ کلونو پورې ځمکه په اجاره واخلي او دوی دا اجاره نوره هم تمدیدولای شي.
افغانستان همدا راز پر حساسو توکو له ۲۰ څخه تر ۷۰ سلنو پورې تعرفې هم ښکته کړې. په ۳۰۰ اقلامو یې هېڅ ډول تعهد ونه کړ، لکه سیمنټ، شامپو، مالګه، صابون، فرنیچر، لاسي صنایع او داسې نور. یانې افغانستان کولای شي له خپلې خوښې سره سم پر دغو اقلامو تعرفه وضع کړي. پر دې سربېره، د ګاټ د ۲۰مې مادې له مخې یې د ٦۵ توکو پر واردولو هم بندیز ولګاوه، لکه الکولي مشروبات، د خنځیر غوښه، ناقانونه درمل او کیمیاوي مواد چې په چاودودنکو بمونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي. **دوام لري...**

# د فساد ضد ناکامه مبارزه؛

## جان باس: په افغانستان کې موجود فساد د نړیوالو مرستو د کمېدو لامل دی




تېره ورځ په ارګ کې د فساد پر وړاندې د مبارزې کلنی کنفرانس و. په دغه کنفرانس کې ولسمشر غني، د کابینې غړو، د بهرنیو هېوادونو سفیرانو او ژورنالېستانو ګډون کړی و. ولسمشر غني په دغه غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې دوی د فساد پر وړاندې مبارزه کې بریالي دي، خو لا هم ډېر کار ته اړتیا ده. د دې تر څنګ، په کابل کې د امریکا او بریټانیا سفیرانو هم د فساد په اړه څرګندونې لرلې. دوی وویل چې په افغانستان کې پراخ فساد موجود دی او د فساد د موجودیت له امله ډېری مرستندویه هېوادونه دې ته زړه نه ښه کوي چې خپلو مرستو ته ادامه ورکړي. سره له دې چې ولسمشر غني په تېرو ټاکنو کې د فساد پر وړاندې مبارزه خپل شعار ګرځولی و او ولس ته یې ډېرې تمې ورکړې وې، خو د نوموړي حکومت له فساد سره مبارزه کې بریالی نه و. د چارو شنونکي او نړیوالې ارزونې ښیي چې په افغانستان کې لا هم فساد موجود دی او حکومت نه دی بریالی شوی چې د شته فساد کچه راټیټه کړي.
په کابل کې د امریکا سفیر په ارګ کې د فساد ضد مبارزې کلنی کنفرانس ته د خبرو پر مهال وویل، چې فساد د افغانستان د پرمختګ په لار کې تر ټولو ستر خنډ دی. د ده په خبره، سره له دې چې امریکا غواړي د دغه پدېدې ضد مبارزه کې همکاري وکړي، خو افغانان تر بل هر چا په ښه توګه کولی شي دغه پدیده له منځه یوسي.
د امریکا سفیر جان باس دغه راز د سولې په اړه هم څرګندونې لرلې. د هغه په خبره، دا ښه ده چې د افغانستان جګړه د مذاکراتو له لارې حل شي او سوله راشي، خو تر سولې وروسته هم فساد د دغه هېواد په پرمختګ کې خنډ دی. د ده په خبره، د افغانستان ډېری مرستندویه هېوادونه او نړیواله ټولنه دې ته اندېښمنه ده چې تر سولې وروسته به د فساد له امله د دوی رواني پروژې څنګه مخ ته وړل کېږي. د جان باس په خبره، دا د ټولو اړخونو لپاره ستره اندېښنه ده چې ښایي تر سولې وروسته د دوی مرستې د فساد قرباني شي.
سفیر دا هم وایي چې اوس د نړیوالو مرستندویه هېوادونو په پروژو او فعالیتونو کې د پام وړ کموالی راغلی او لامل یې هم په افغانستان کې شته فساد بولي.
جان باس په خپلو خبرو کې آن دا هم وویل چې د افغان حکومت ځینې چارواکي په فساد کې ښکېل دي. د ده په خبره، نړیوال دا اندېښنه لري چې ګواکې د دوی مرسته شوې پیسې د څو کسانو جیبونو ته ځي او د فساد له امله پر اغېزناکو لارو چارو نه لګول کېږي.
نوموړي په افغان حکومت کې د معافیت موجودیت هم د فساد لامل وباله او په خبره یې د قانون په سمه توګه نه عملي کېدل او معافیت د فساد د پراختیا مهم لامل دی.
بلخوا ولسمشر غني بیا د فساد پر وړاندې مبارزه کې خپل حکومت بریالی بولي. د ده په خبره، د فساد ضد مبارزې په برخه کې له نړیوالو سره د افغان حکومت د ۱۰۲ ژمنه شوو شاخصونو له ډلې ۸۲ یې عملي شوي دي. هغه وایي، افغان حکومت فساد ضد مبارزې ته ژمن دی او په دې برخه کې مهمې لاس ته راوړنې هم لري. غني زیاتوي چې سیسټمونه اصلاح شوي، قوانین رامنځ ته شوي، تر ډېره بریده په ملکي او امنیتي برخو کې د خیالي کارکوونکو مخه نیول شوې، لسګونه لوړ رتبه چارواکي چې په فساد کې ښکېل وو، مجازات شوي او د استخدام پروسه شفافه شوې ده.
ولسمشر غني په دې کنفرانس کې د وینا پر مهال وویل چې په تېره دوره کې د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره سیاسي اراده او اجماع نه وه موجوده، خو اوس د دغه پدیدې پر ضد مبارزې لپاره دوی کلکه اراده لري او خپلې هڅې کوي. غني وایي: ((مونږ په تېرو دورو کې له فساد سره د مبارزې لپاره اجماع نه درلوده او له اجماع پرته په دې برخه کې چټک اقدامات ستونزمن وي. مونږ له فساد سره د مبارزې په برخه کې ګډې ژمنې ته اړتیا لرو او د قانون حاکمیت په دې اړه تر ټولو مهم دی. د قانون په حاکمیت کې هر ډول منفي مداخله د هر چارواکي له لوري چې وي، باید جرم وګڼل شي)).
افغان حکومت داسې مهال ځان د فساد ضد مبارزې په برخه کې بریالی بولي، چې ډېرې نړیوالې سروېګانې او رسنۍ په افغانستان کې د پراخ فساد د موجودیت خبر ورکوي او په خبره یې، افغان حکومت نه دی بریالی شوی چې د فساد ضد مبارزه کې اړینې او اغېزناکې لاس ته راوړنې ولري.

# چاووش اوغلو: د امریکا هر ډول بندیزونو ته به مناسب ځواب ورکړو

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د واشنګټن او انقرې تر منځ کړکېچ یوځل بیا د ډېرېدو په حال کې دی، د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر خبرداری ورکړی چې هېواد به یې د امریکا هر ډول اقدام ته مناسب ځواب ووایي.
د ترکیې د اناتولي خبري اژانس د راپور له مخې، د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو ویلي: «که د واشنګټن له لوري پر انقرې بندیزونه ولګول شي، موږ اړ یو چې په ورته اقدام لاس پورې کړو. دغه راز موږ هڅه کوو چې د دواړو هېوادونو تر منځ راپورته شوی کړکېچ د خبرو له لارې حل کړو، خو بیا هم وایم چې د امریکا هېڅ اقدام به بې ځوابه پاتې نه شي».
نوموړي دغه راز د امریکا د کانګرېس له خوا د وروستي پرېکړه لیک په ځواب کې هم ویلي، چې هغه سیاستمداران چې لږ تاریخي پوهه لري، د تاریخ په اړه باید ژر پرېکړه ونه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا کانګرېس په وروستي پرېکړه لیک کې د سوریې په شمال کې د ترکیې له عملیاتو د ناخوښۍ د څرګندونو تر څنګ، پر دغه هېواد د بندیزونو د لګولو وړاندیز هم کړی دی.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د یو لړ اختلافاتو له کبله د امریکا او ترکیې ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي. له روسیې څخه د اېس- ۴۰۰ میزایلو دفاعي سیستم پېر، په سوریه کې د امریکا له ملاتړه برخمنو کردانو پر وړاندې د ترکیې وروستیو عملیاتو او په نړیواله کچه نورو مسایلو په تړاو د دواړو هېوادونو مخالف دریځ واشنګټن او انقرې ترمنځ اړیکې ترینګلې کړې دي. په ورته وخت کې امریکایي چارواکو بیا بیا خبرداری ورکړی، چې که ترکیه په خپل اوسني دریځ له سره غوره ونه وکړي، له سختو بندیزونو سره به مخ شي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ ليکوال: ابوبکر صديق


◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

دريمه برخه

افغانستان

**لسم څپرکی**

**د وزيرستان جگړه**




طالبان په دې پوهېدل چې د امريکايي ملاتړ لرونکو ځواکونو پر وړاندې جبهه يي جگړه نشي کوی نو، ځکه يې چريکي جگړه پيل کړه. د دې ستراتېژۍ اړينه بڼه په مرموزه توگه وژل وو. طالبانو چې کوم کسان وژل هغوی ته به يې د بهرنيانو د اشغال د ملاتړو نوم ورکاوه او د جهاد په نوم به يې هغوی له منځه وړل. طالبانو د سلگونو وژنو پړې پر غاړه واخيستې، هغوی د ۲۰۱۱ز کال په جولای کې د احمدولي کرزي د وژلو پړه هم پر غاړه واخيسته. هغه د حامد کرزي کشر ورور و، په سويلي افغانستان کې تر ټولو ځواکمنه څېره وه. د وژنو گراف له اوج ته رسېدو سره، کندهار د افغانستان د مرموزو وژنو په پلازمېنه مشهور شو.

طالبانو خلک په دې ډول وژنو ووېرول ځکه نو، له همدې کبله پر خپلو فعاليتونو هم برلاسي شول. په ۲۰۰۱ز کال د طالبانو د حکومت په ړنگېدو سره ډېرو قومي مخورو تمه وښوده چې بېرته د حکومت او خلکو تر منځ د اړيکو په رول کې را ښکاره شي. طالبانو درک کړې وه چې د خلکو او دولت تر منځ د اړيکو دا پول بايد له منځه يوسي، په دې توگه به وکولای شي پر خپلو چارو برلاسي شي. د پښتنو په منځ کې تر ډېره مشـري پر ميراث اخيستل کېږي، خو پر مخ وړل او پرمختيا يې د کس پر خپلې وړتيا، نفوذ او کاريزما پورې اړه لري. د مشـرانو د کار مشـروعيت په ټولنيزو او سياسي بنسټونو پورې تړلی. پښتو ژبه کې يو نامتو متل دی: ((سل دې ومره، يو دې مه مره.)) له دې متل جوتېږي چې د پښتنو په ټولنه کې قومي مخور ډېر ارزښت لري.

د قومي مخورو پر وژلو سره طالبانو د پښتنو يووالی خورا زيانمن کړ. د پښتنو په سيمو کې مخالفتونو په اوږدمهاله توگه د طالبانو د بيا واک ته رسېدو مخه ډب کړې، حکومتي سرتېرو او لوېديځوالو ځواکونو ته يې فرصت پرانيستی پرې اېښی. د طالبانو د مرموزو وژنو په ترڅ کې پښتانه له خپلو مشـرانو بې برخې شول، د وېرې فضاء يې جوړه کړه او عام خلک يې له خاورو سره خاورې کړل. له دې وژنو سره د ځايي خلکو، حکومت او بهرنيانو تر منځ باور خورا زيانمن شو. طالبانو په دې کار سره غوښتل دراني پښتانه د سويلي افغانستان له باثباته کولو را وگرځوي او په خپل نفوذ سره ونشي کړی د طالبانو د نفوذ مخه ډب کړي. دا هڅې يې په لويه کچه بريالۍ وې. يو کندهاری شنونکی عبدالحبيب په دې اړه وايي: ((طالبان اوس زموږ په قومي ټولنه خورا لوی اغېز لري. هغوی جنازې، د زېږون مراسم او کوژدې نمانځي او د خلکو په منځ کې يې د شخړو د حل واگې هم په خپلو لاسونو کې اخيستې.))

القاعدې په افغانستان او پاکستان کې د طالبانو له لورې مرموزو وژنو ته پر حق د ثابتولو دلايل وړاندې کول. د القاعدې په فلسفه کې د هغو مسلمانانو وژل روا دي چې په تکفير تورن وي. په حقيقت کې ياغيانو غوښتل له دې لارې خپل مخالفين او نفوذ لرونکي کسان له منځه يوسي. د تکفير د تورنولو له لارې به يې د پښتنو قومي مخورو، مشـرانو او نورو نفوذ لرونکو کسانو د له منځه وړلو پلمې لټولې. ډېری پښتانه وايي چې نالوستي ځوانان يې د تبليغاتو، پيسو او يا هم د هغوی د شخصي دښمنيو د غچ اخيستلو په ژمنو سره د ياغيانو په ليکو کې ځای پر ځای شوي. ځايي قومي مخور به يې د همدې ځوانانو له لورې وژل. دا هرڅه د طالبانو د تحريک په رسمي اصولو کې منع وو، خو په عمل کې ترسره کېدل.

**د اصولو لارښود کتاب**

د افغانستان په سويل کې د ۲۰۰۴ز کال د اکتوبر له ټاکنو وروسته د طالبانو جگړې لا زور واخيست. په ۲۰۰۲ز کال حامد کرزی د انتقالي دورې د مشـر په توگه ټاکل شوی و، دا ځل د لومړي ځل لپاره ولسمشـر د ټاکنو له لارې وټاکل شو. هغه مهال چې واشنگټن د عراق پر جگړه بوخت شو، طالبانو ته لاره خلاصه شوه، ځکه يې د افغانستان په لوی کندهار کې ډېرې سيمې ونيوې. تر ۲۰۰٦ز کال پورې ناټو درک کړه چې طالبان بيا هم يو گواښ و، ځکه يې د هغوی پر ضد جگړو کې ونډه پيل کړه. د کندهار په لوېديځ پنجوايي ولسوالۍ کې کې ۱۵۰۰ طالبانو د زرگونو کاناډايي او افغان ځواکونو پر ضد دوه اونۍ سخته جگړه وکړه. له دې جگړې وروسته ناټو د ۱۱۰۰ طالبانو د وژلو او ۱۵۰د نيولو ادعا وکړه. له دې جگړې ښکارېده چې طالبان ځواکمن شوي وو او مشـرانو يې له پاکستانه هغوی رهبري کول.

د کوټې شورا بيا وېره لرله چې د جگړې په ډگر کې ځينو طالبانو خپلواک حرکتونه کول. ملا داداالله چې د ۲۰۰۷ز کال په مې کې ووژل شو د طالبانو په منځ کې يې د خورا سخت زړي قومندان نوم لاره. کوټې شورا د خپلو قومندانانو د مهارولو لپاره د اصولو يو لارښود کتاب خپور کړ. دا وړوکی جيبي کتاب چې په پښتو ژبه خپور شوی و، (د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدينو لپاره د اصولو کتاب) په نوم يادېده. ياد کتاب د ۲۰۰٦ز کال په مني کې خپور شو. په دې اصولو کې دېرش داسې چارې وې چې طالبانو بايد ډډه ترې کړې وای. کله چې ياد کتاب د ۲۰۰۹ز کال په مې مياشت کې د دوهم ځل لپاره خپور شو يادې چارې ٦٦ ته رسېدلې وې.

**دوام لري...**

# جنوبي کوريا

حشمت الله نوري



جنوبي کوريا د لرې ختيځ هېوادونو په ډله کې د آسيا په ختيځ کې د ژېړ سيند او د جاپان د سيند تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۳۴ او ۳۸ درجو او د ختيځ طول البلدونو د ۱۲۴ او ۱۲۹ درجو تر منځ موقعيت لري، چې ټولټال يې پراخوالی ۳۸۵۰۲ ميل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۱۰۳م لوی هېواد دی.

د جنوبي کوريا شمال ته شمالي کوريا، جنوب ته د جنوبي چين سيند، ختيځ ته د جاپان سيند او لوېديځ ته يې ژېړ سيند موقعيت لري.

له اوبو سره د جنوبي کوريا ډېر گاونډيتوب د دغه هېواد پر اقليم او د اقليمي سيمو پر وېش ډېره اغېزه کړې ده. د کوريا اقليم له يوې خوا قاروي دی او شمالي سيمې يې سړې دي. له بلې خوا د دغه هېواد جنوبي سيمې سمندري اقليم لري چې هوا يې نسبتاً ملايمه ده.

جنوبي کوريا نيم غرنی هېواد دی چې د غرونو لړۍ يې له شمال څخه جنوب ته غځېدلې ده. د دغه هېواد منځنۍ- شمالي سيمې د سمندر له سطحې څخه جگې پرتې دي.

د دغه هېواد پلازمېنه د سيول ښار دی او ټولټال څه باندې ۵۱ ميليونه نفوس لري، چې په هر کيلومتر مربع سيمه کې يې ۵۰۱ کسان ژوند کوي.

د دغې کوريا ۸۵ سلنه خلک په ښارونو او پاتې ۱۵ سلنه نور يې بيا په کليو او باندېو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د دوو ماشومانو د درلودو حق لري.

جنوبي کوريا د اداري وېش له پلوه پر نهو ولايتونو وېشل شوې ده. انچون، کواتک، پوسان، تيگو، تيي جان، لونگ جو او نام ون د دغه هېواد مهم او لوی ښارونه دي.

د کوريا د حکومت ډول جمهوري دی، د جنوبي کوريا اوسنی اساسي قانون د ۱۹۹۸ ز کال د جولای په ۱۷مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر مون جه اين او لومړی وزير يې لي ناک يون دی. د دغې کوريا ولسمشر د خلکو په خوښه د يوځل لپاره د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې لومړی وزير، د لومړي وزير مرستيالان او د کابينې نور وزيران د ولسمشر له فرمان وروسته د هېواد د ملي شورا تاييد اخلي. د دغه هېواد د ولسي جرگې ۲۹۹ غړي د څلورو کلونو لپاره د خلکو په رايه ټاکل کېږي.

د جنوبي کوريا حقوقي نظام د اروپا پر مدني، انگليسي او امريکايي قوانينو او د چين پر کلاسيکو افکارو ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضايي ارگان ستره محکمه ده چې قاضيان يې د ولسمشر په وړانديز د ولسي جرگې له خوا ټاکل کېږي.

دغه هېواد د ۱۹۴۵ ز کال د اگست په ۱۵مه له جاپان څخه خپلواکي اخيستې او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

جنوبي کوريا د ختيځې آسيا په څلورو پرمختللو هېوادونو کې د اقتصادي پرمختگ د نه منلو ريکارډ ټينگ کړی دی. څلور لسيزې مخکې د دغه هېواد د سړي سرکلني عايد د آسيا او افريقا له نورو بېوزلو هېوادونو سره برابر و؛ خو اوس د جنوبي کوريا د سړي سرکلنی عايد د شمالي کوريا په پرتله ډېر زيات توپير لري.

جنوبي کوريا د تېرې پېړۍ له شپېتمې لسيزې څخه هغه بريالی اقتصادي پرمختگ پيل کړ، چې دغه هېواد يې د ودې اوسني پوړ ته ورساوه. په نيمه لسيزه کې د دغه هېواد د اقتصاد په دغه ستر برياليتوب کې دې عواملو برخه درلوده: د دولتي سوداگرۍ منظم سيستم، سوداگرو او صنعتکارانو ته د پورونو ورکول، د وارداتو محدودول، د ځينو ځانگړو صنعتي توليداتو څارنه او ساتنه او د کوريايي کارگرانو زيار او نوښت، په نومونړې لسيزه او وروستيو کلونو کې د جنوبي کوريا حکومت د استهلاکي شيانو په پرتله د اومو صنعتي توکو او خورا عصري ټکنالوژۍ واردولو ته ترجيح ورکړه. حکومت همدا شان خلک د لگښت پر ځای سپما او پانگې اچونې ته وهڅول.

جنوبي کوريا د اقتصادپوهانو او دولت د گډو هڅو له امله په ۲۰۰۲ ز کال کې خپله اقتصادي وده ۷ سلنه ته جگه کړه. د دغه هېواد ولسمشر همدا شان مثبت گامونه اوچت کړل چې د هېواد د سوداگرۍ غټې ډلې يې يو له بل سره يوځای کړې، څو په کارونو کې اختصاص وده پيدا کړي.

د کاني توکو او تېلو ايستل او چاڼ، برېښنايي سامان، مخابراتي وسايل، لوی او کوچني نقليه وسايط، ربړ، کاغذ، سيمنټ او نور ساختماني توکي، کيمياوي توکي، ټوکران، بوټونه، بېړۍ، د اوسپنې ويلې کول او فولاد، ښيښه، خوراکي توکي، د کاني موادو د ايستنې او چاڼ ماشينونه، لوبې، منځنۍ او کمکۍ فابريکې، د اورگاډو کرښه او د الوتکو د ځينو برخو پوځي وسايل او مهمات د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د جنوبي کوريا ۱۸ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، پاتې يې څړځايونو، ځنگلونو، غرونو، بيدياوو، ښارونو او د استوگنې کليوالو سيمو نيولې ده. د دغه هېواد اته سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت او د هېواد دری سلنه ناخالص کورني توليدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

لرگي، وريجې، وربشې، لوبيا، کچالو، تنباکو، پنبه، ميوې، سابه، غوښه، لبنيات، هگۍ او واښه د دغه هېواد مهم کرنيز محصولات بلل کېږي.

دغه هېواد له ۵۰۰ زياتې تجارتي بېړۍ لري، ۱۱۷ هوايي ډگرونه لري چې ۷۵ يې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټيلفون کود ۰۰۸۲ او د انټرنېټ کود يې KR دی، چې ټولټال يې ۴۰ ميليونه کسان لاسرسی ورته لري.

جنوبي کوريا په سيمه کې د دولتي او خصوصي رسنيو ډېر ستر او پراخ جال لري، چې ډېر ټلوېزيونونه، راډيوگانې او چاپي رسنۍ پکې فعاليت کوي.

دغه هېواد د ناخالص کورني توليد او سړي سرکلني عايد په حساب، د آسيا او نړۍ له پرمختللو هېوادونو څخه بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر ليک او لوست پوهېږي. په جنوبي کوريا کې زده کړه له ٦-١٦ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره وړيا او جبري ده.

د جنوبي او شمالي کورياگانو تاريخ تر ۱۹۴۵ ز کال پورې سره يو دی. کله چې د دويمې نړيوالې جگړې په بهير کې امريکا د اگسټ په ۱۵مه پر جاپان اټومي بمونه وغورځول او جاپاني پوځونه تسليم شول، کوريا د جاپانيانو د واکمنۍ له کړۍ څخه ووته. د جگړې په بهير کې متفقينو جگړې ته د کوريايانو د هڅولو لپاره دغه هېواد ته د بشپړې خپلواکۍ وعده ورکړې وه. د جاپان د ماتې په وخت کې د کوريا په جنوبي سيمو کې امريکايي او د کوريا په شمالي برخو کې روسي پوځونه پراته وو. دوی سمدلاسه په دې دواړو سيمو کې داسې پوځي حکومتونه جوړ کړل، چې کوريايانو په کې برخه نه درلوده. امريکا او شوروي په ۱۹۴٦ ز کال کې په کوريا کې د يوه موقتي حکومت د جوړولو لپاره يو گډ کمېسيون جوړ کړ. دغه حکومت به د امريکا، انگلستان او شوروي تر پاملرنې لاندې د کوريا سياسي او ټولنيزو ډلو په گډون، د پنځو کلونو لپاره د چارو واگې سمبال کړې وای.

د ۱۹۵۰ ز کال د جون په ۲۵مه د شمالي کوريا پوځونو له خپل هېواد سره د جنوبي کوريا د يو ځای کولو په تمه پر جنوبي کوريا يرغل وکړ. په دغه ستره جگړه کې د کورياوو پر پوځونو سربېره، د چين، امريکا او ۱۵ نورو هېوادونو سرتېرو هم برخه واخيسته، چې ټولو ته ډېر درانده مالي او ځاني تاوانونه ورسېدل. په دې جگړه کې د شمالي کوريا پوځونه د جنوبي کوريا کمونيستان او د چين مرستندويه پوځونه يوې خوا ته وو او د ملگرو ملتونو د غوښتنې پر بنسټ د ۱۵ هېوادونو پوځيان د امريکا د متحده ايالاتو په مشرۍ د شمالي کوريا پر ضد جنگېدل. دغو پوځونو غوښتل چې د جنوبي کوريا نظام وساتي او د شمالي کوريا د چارواکو په نوښت د دواړو کورياگانو د يو ځای کېدو مخه ونيسي. په دې درې کلنه جگړه کې په سلگونو زره کسان ووژل او په لسگونو زره نور ټپيان او ورک شول.

د ۱۹۵۳ ز کال د جون په ۲۷مه د کوريا په ټاپووزمه کې د اوربند تړون لاسليک شو او د دواړو کورياگانو پوځي ځواکونه د اوربند کرښې ته ستانه شول.

افغانستان په ۱۳۵۲ لمريز کال کې د خپل ناپېيلي فعال بهرني سياست له مخې، دواړې کورياوې په رسميت وپېژندلې او په کابل کې د دواړو هېوادونو سفارتونه پرانيستل شول. د ثور له کودتا وروسته، افغانستان له جنوبي کوريا څخه خپله پېژندنه بېرته واخيسته، د شمالي کوريا دولت يې د کوريا د ټاپووزمې يوازينی قانوني دولت وباله او په کابل کې يې د جنوبي کوريا سفارت بند کړ. د ډاکټر نجيب‌الله د واکمنۍ پر مهال په کابل کې له جنوبي کوريا سره د اړيکو د بيا جوړولو هڅه وشوه او د وخت د بهرنيو چارو وزارت ډيپلوماټ په هغه غونډه کې چې په سيول کې جوړه شوې وه، د دواړو هېوادونو تر منځ د اړيکو پر احيا خبرې وکړې، خو د نجيب‌الله حکومت سقوط دا هيله پوره کېدو ته پرې نښوده.

په افغانستان کې د اسلامي دولت په وخت کې هم داسې هڅه وشوه چې له جنوبي کوريا سره اړيکې بيا پيل شي او د افغانستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير عبدالرحيم غفورزي کوريا ته سفر وکړ، خو د جنوبي کوريا چارواکي د اړيکو د بيا جوړولو لپاره لېواله نه ښکارېدل.

په افغانستان کې د حامد کرزي په مشرۍ د نوې ادارې له جوړېدو وروسته، جنوبي کوريا د اړيکو د ټينگولو زنگالونه ولېږل او د توکيو په غونډه کې يې د افغانستان د بيا ودانولو لپاره د ۴۵ ميليونو ډالرو مرستې اعلان وکړ. د ۲۰۰۲ ز کال د سپټمبر په ۲۳مه په کابل کې د جنوبي کوريا سفارت پرانيستل شو.

له افغانستان څخه تر جنوبي کوريا پورې د هوا له لارې فاصله ۵۴۰۳ کيلومتره او همدا راز د کابل او سيول ښارونو تر منځ د وخت توپير ۴:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۰ |
| € | ۸۷,۲۰ |
| Rp. | ٥۰٤ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰٤,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د شتمنېدو په موخه شپږ لوی درسونه چې باید زده یې کړئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

له هغو کسانو پرته چې شتمني او جایدادونه په میراث ورته پاتې دي، د ټولنې خلک په دوو برخو وېشل کېږي. یوه ډله یې هغه کسان دي چې له سختو سختیو وروسته بریا ته رسېږي او ورځ تر بلې یې د عوایدو کچه لوړېږي او بله ډله یې بیا هغه کسان دي چې عادي او معمولي ژوند لري او د بد اقتصادي وضعیت، وزګارتیا او شخصي ستونزو له کبله ورته دا معمولي ژوند هم نه پاتې کېږي او ورځ تر بلې نېستمن کېږي.

خو څه شي د دې دواړو ډلو تر منځ دغه توپیر رامنځ ته کړی دی؟

که دې پوښتنې ته ډېر اسانه او ساده ځواب ورکړو، ویلای شو چې هر څه خپله د خلکو د تفکر زېږنده دي او د دوی له فکره پیلېږي. په اصل کې زموږ د تفکر بڼه زموږ د شخصیت ښکارندویي کوي او زموږ مسیر ټاکي، چې بیا وروسته زموږ د تفکر دغه بڼه زموږ د کړنو لامل کېږي. دغه څه بیا د دې ښکارندویي کوي چې موږ دې د ټولنې شتمن که نېستمن وګړي اوسو.

**لومړی درس:** معمولي کسان له ټلویزیون الګو اخلي او شتمن بیا له کتاب څخه!

شتمن کس باید جوړ شي. تاسو باید لومړی خپل تفکر پراخ کړئ. ستاسو نړۍ باید پراخه وي، نه محدوده. ځینې کسان پر ټلویزیون روږدي شوي وي، په داسې حال کې چې پر ځان خبر هم نه وي. د معمولي کسانو په کور کې تل ټلویزیون روښانه وي. دوی شپه او ورځ د هغه څه تر اغېز لاندې وي چې پر ټلویزیون خپرېږي، لکه خبرونه، فلمونه، سریالونه او داسې نور. خو شتمن کسان دغه تېروتنه نه کوي. دوی د دې ډول زهري خپرونو پر ځای کتاب ته مخه کوي. یو شتمن کس پر دې ښه پوهېږي چې اصلي قدرت په علم او پوهه کې دی. نو له همدې کبله مطالعې ته مخه کوي او خپله پوهه او وړتیا لوړوي. تاسو هم کولای شی دغه کار پیل کړی. که د کتاب لوستل درته سخت وي، نو کولای شی چې په وېب پاڼو کې د ګټورو کتابونو خلاصه ولولی.

**دویم درس:** معمولي کسان تنخوا اخلي، خو شتمن کسان تنخوا ورکوي!

موږ ټول له ډېرې ټیټې کچې کار پیلوو، په رسټورانټ کې کار کوو، په شرکت کې او یا هم په دولتي اداره کې. دا هېڅ بده خبره نه ده. خو اصلي ستونزه هغه وخت رامنځ ته کېږي چې موږ د خپلو عوایدو لپاره یو محدودیت وټاکو.

دغه څه هغه وخت پېښېږي چې تاسو د یوه کار کوونکي په توګه د ځان لپاره د یوې دایمي دندې غوښتونکي شی. کله چې تاسو د یوې اداري او یوه شرکت کار کوونکي شوی، بیا نو ښکاره خبره ده چې معلومه تنخوا به اخلی. خپلې شاوخوا ته مو وګورئ، داسې کوم شتمن وینی چې د ټاکلې تنخوا اخیستو پر مټ شتمن شوی وي؟

تر څنګ یې د شرکتو مشرانو او نورو کار پنځوونکو ته وګورئ، دوی په خپلو عوایدو کې هېڅ محدودیت نه لري. دوی تاسو ګوماري څو د یوې ټاکلې تنخوا په بدل کې هغوی ته ډېرې پیسې وګټې.

لازمه نه ده چې تاسو دې ټول عمر یو کار کوونکی پاتې شی، خو په دې شرط چې قوانین سم زده کړی. کولای شی په دې برخه کې د رابرټ کیو ساکي له درسونو څخه ګټه واخلی، چې موږ دلته درته خلاصه کړي دي.

**درېیم درس:** معمولي کسان نور ګرم ګڼي او شتمن بیا خپل ځان!

که مو فکر کړی وي، معمولي کسان همدا چې سهار له خوبه پورته شي، په ټکسي، ملي بس، کارځای او چېرته چې وي له دولت او حالاتو شکایت کوي. دوی په ژوند کې د ټولو ناخوالو لامل دولت بولي. خو په اصل کې داسې نه ده. که همداسې وای، بیا نو دا شتمن کسان له کومه شول؟

اصلي ستونزه په مسوولیت نه منلو کې ده. معمولي کسان ستونزې د نورو پر اوږه ور اچوي، څو خپلې اوږې سپکې کړي. خو شتمن کسان یوازې ځان ګرم بولي. دوی په هماغه لومړي سر کې ټولې ستونزې د ځان بولي او د حل لپاره یې متې بډ وهي.

**څلورم درس:** معمولي کسان پیسې سپموي، خو شتمن پانګونه ور باندې کوي

هغه کسان چې په ټیټه کچه عواید لري، هڅه کوي چې د همدې لږو عوایدو یوه برخه سپما کړي. دوی له تفریح تېرېږي، ښې جامې نه اغوندي، ښو رسټورانټونو ته نه ځي څو وکولای شي د کال په پای کې یې یو څو افغانۍ سپما کړې وي. که تاسو هم له دې ډلې کسانو یاست، ایا تر اوسه مو په دې اړه فکر کړی چې ولې نه شتمنېږی؟

که د میاشتې پنځه زره افغانۍ سپما کړی، د کال په پای کې به ٦۰۰۰۰ افغانۍ ولری. که ١٦ کاله دغه ډول سپما وکړی، ټولې سپما شوې پیسې به مو ٩٦۰۰۰۰ وي، خو هغه وخت به یې دری چنده خپل ارزښت بایللی وي. شتمن کسان د سپما پر ځای پر خپلو پیسو پانګونه کوي. دوی د خپلې یوې افغانۍ لپاره هم پلان لري، چې څه ډول ور باندې پانګونه وکړي. څه ډول چې د معمولي کسانو پیسې په بانکونو کې ویدې دي، برعکس د شتمنو کسانو هره افغانۍ بله افغانۍ زېږوي او زیاتېږي.

**پنځم درس:** د عادي وګړو هر څه زده وي، خو شتمن کسان هر څه زده کوي

که دا ځل په ټکسي، بس او یا هم کوم مجلس کې کېناستی، نو خبرو ته ښه دقت وکړئ. عادي وګړي په یوه ساعت کې د لسو بېلابېلو تخصصي موضوعاتو په اړه نظر ورکوي او داسې ښکاره کوي چې ګواکې پر هر څه باندې پوهېږي. دوی د هېواد د اقتصادي وضعیت، امنیتي وضعیت، سولې، کورني او بهرني سیاست او نورو ډېرو شیانو په اړه په ډاډه زړه نظرونه ورکوي او داسې ښکاري چې د دې برخې متخصص او شنونکی دی. ځینې یې د اقتصادي مسایلو په اړه داسې نظر ورکوي ته به وایې «وارن بافت» دی. په داسې حال کې چې په دې برخه کې به یې لوی کار د کلي له دوکان څخه د یوه کوچني شي اخیستل وي. خو شتمن کسان بیا داسې نه دي. دوی ډېر ښه غوږ ږدي او هڅه کوي چې یو څه زده کړي.

لوی خلک هېڅکله داسې نه وایي چې زه پوهېږم. دوی خپل نظر پر چا نه تحمیلوي. دوی د نظر څرګندولو پر ځای پر اورېدو او زده کولو تمرکز کوي.

**شپږم درس:** عادي او معمولي کسان فکر کوي چې شتمن غله دي، خو شتمن بیا په دې اند دي چې نېستمني د ټولو ستونزو اصلي ریښه ده

تاسو به هم ډېر اورېدلي وي، هغه کسان چې ښې پیسې پیدا کوي، خلک ورته وایي دا غل دی. یا وایي هېڅوک له حلالې لارې څخه نه شي شتمن کېدای. دا تر ټولو لوی دروغ دي چې عادي وګړي یې وایي.

**خو ولې؟**

ځکه دوی نه دي توانېدلي چې بریالي شي. اوس غواړي خپله ناتواني د نورو پر غاړه ور واچوي. دا به مو اورېدلي وي چې نیستمني د ستونزو ریښه ده. که یې نه منی وګورئ په ښار، بازار او کلي کې؛ غلا، د نشه یي توکو قاچاق، قتل او نور په هغه سیمو کې کېږي چې بې وزلي پکې حاکمه ده. خو هوښیار خلک پوهېږي چې له دې ستونزو څخه د خلاصون یوازینۍ لار دا ده چې هڅه وکړي شتمن شي او د خپلو متو او فکر په زور له یوې مناسبې او حلالې لارې پیسې وګټي.

## مشرانو جرګه: اوربند باید سرتاسري وي، نه یوازې د امریکا او طالبانو تر منځ

د مشرانو جرګې غړو د رایو د بیاشمېرنې د پیل د هرکلي تر څنګ ویلي، چې اوربند باید یوازې د امریکا او طالبانو تر منځ نه وي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو د استازو تر منځ د سولې نهه پړاوه خبرې څه موده وړاندې د امریکا د ولسمشر له خوا ودرېدې، خو په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون د دوو استادانو په بدل کې د دریو طالب زندانیانو له خوشې کېدو وروسته، دا خبرې بیا په قطر کې پیل شوې، خو په بګرام کې پر امریکایي اډې له برید وروسته په موقت ډول ځنډول شوې دي.

په قطر کې د طالبانو د دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي چې دغه ډله به له امریکا سره له توافق وروسته، د دغه هېواد نظامیانو ته اجازه ورکړي چې په خوندي ډول له افغانستانه ووځي.

نوموړي همدارنګه ویلي چې د تړون له لاسلیک وروسته طالبان پر امریکایي نظامیانو بریدونه نه کوي.

شاهین ویلي، کله چې بین الافغاني خبرې پیل شي او یوه تړون ته ورسیږي، وروسته له هغه به طالبان پر افغان ځواکونو هم برید نه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان حکومت له طالبانو سره د خبرو د پیل شرط اوربند اعلان کړی او ویلي یې دي چې له اوربند پرته له هغوی سره خبرې نه کوي.

په ورته وخت کې مشرانو جرګې په پرونۍ ناسته کې پر همدې موضوع خبرې کړې دي.

د کندهار خلکو استازي رحمت الله اڅکزي د جرګې په دې ناسته کې ویلي: «موږ په هېواد کې د سولې د ټینګښت لپاره له هر اقدام څخه ملاتړ کوو او خدای دې وکړي نتیجه ورکړي؛ که امریکا او طالبان اوربند وکړي او د افغانستان دولت ترې مستثنا شي، جنګ به شدت پیدا کړي او دا کار د افغانستان پر وړاندې خیانت دی».

دغه راز په دې جرګه کې د اروزګان د خلکو استازي محمد حنیف ویلي: «پنځه ورځنۍ سوله موږ ته د منلو نه ده، په هغه بهیر کې چې افغانان حضور ونه لري، موقتي به وي او د افغانانو لپاره به د منلو نه وي».

نوموړي زیاته کړې، هغه اوربند چې د امریکا او طالبانو له توافق وروسته رامنځ ته کېږي، باید ټولیز وي او یوازې د امریکا او طالبانو تر منځ نه وي.

## امریکایي چارواکي: ټرمپ به راتلونکې اونۍ له افغانستانه د څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو اعلان وکړي

د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ د امریکا متحده ایالتونو حکومت په پام کې لري، چې د راتلونکې اونۍ په لومړیو کې له افغانستانه د څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو اعلان وکړي.

د امریکا د حکومت دریو اوسنیو او پخوانیو چارواکو له (اېن بي سي) خبري شبکې سره په مرکه کې دغه څرګندونې کړې، خو د دغو څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو کره نېټه یې نه ده په ډاګه کړې.

دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال په افغانستان کې د مېشتو امریکایي سرتېرو شمېر له ١٢ زرو څخه تر ١٣ زرو پورې رسېږي.

دغه امریکایي چارواکي چې نوم یې نه دی څرګند شوی، ویلي چې له افغانستانه د امریکایي سرتېرو د ایستلو بهیر به په څو پړاوونو کې تر سره شي، چې څو میاشتې وخت به ونیسي.

د دغو امریکایي چارواکو په حواله ویل شوي چې د امریکایي سرتېرو د ایستلو لړۍ په دوه ډوله تر سره کېږي، چې لومړۍ هغه به یې په افغانستان کې د خدمت مودې له پای ته رسېدو څخه مخکې د ځینو سرتېرو ایستل او بل کوم سرتېري چې ایستل کېږي، پر ځای به یې تازه دمه سرتېري نه ځای پر ځای کېږي.

د یادونې ده چې له افغانستانه د څلورو زرو امریکایي سرتېرو په ایستلو سره به په دغه هېواد کې د مېشتو امریکایي سرتېرو شمېر د اتو او نهو زرو ترمنځ پاتې شي، چې له «این بي سي» خبري شبکې سره د یو امریکایي چارواکي په خبره، په دې سره به په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شمېر حد اقل ته ورسېږي، څو له طالبانو سره د سولې بریالۍ خبرې تر سره شي.

خو په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو سرتېرو له خپرې کړې اعلامیې داسې ښکاري چې تر دې مهاله یې د سرتېرو د کمولو په اړه کوم امر نه دی تر لاسه کړی.

په دغه اعلامیه کې راغلي: «موږ له قاطع ملاتړ ماموریت او افغان شریکانو سره د خپل ماموریت پر مخ وړلو لپاره کاملاً ژمن پاتې کېږو، زموږ تمرکز پر کلیدي اهدافو دی، هغه دا چې څو دا ډاډ تر لاسه شي چې افغانستان نور د نړیوالو تروریستانو پر مرکز نه بدلېږي، چې له امله یې امریکا او شریکانو ته ګواښ پېښ کړل شي».

له افغانستانه د څلورو زرو امریکایي سرتېرو د ایستلو په اړه یادې خبرې داسې مهال کېږي، چې تېره اونۍ تر دری میاشتني ځنډ وروسته په دوحه کې د امریکایي او طالب استازو تر منځ د سولې خبرې بیا پیل شوې.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

AYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۱٦مه | ٤۸۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ١٦ | ۱٥ | ۱۲ | ۱۸ | ۱۳ |
| -۳ | ٤ | ۳ | ۳ | ۳ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۲۳ | لمر ختل ۰٦:٥۲ | ماسپښین ۱۱:٤۹ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:٤٥ | ماخوستن ۰٦:۱٥

## غني: زمری پیکان قوماندان پشین پولیس نظم عامه بازداشت شود



رئیس جمهور غنی در سخنرانی اش در کنفرانس سالانۀ مبارزه با فساد اداری در کابل، ضمن تأکید بر مبارزه جدی با فساد، خواستار بازداشت فوری زمری پیکان، قوماندان پشین پولیس نظم عامه شد.

معاون دوم رئیس جمهور افغانستان، در این کنفرانس گفت که نهادهای ذیربط کشور، هنوز هم در تعقیب قضایای مربوطه از سرعت لازم بر خوردار نیستند؛ سفیر ایالات متحدۀ امریکا در این نشست، به تأکید یادآور شد که فساد اداری، بزرگترین مانع موفقیت افغانستان در سطح پیشرفت و انکشاف است و سبب کاهش کمک های جامعه جهانی با این کشور می شود.

در کنفرانس یادشده که دیروز در کابل برگزار شد، بر علاوه برخی سفرا، مقام های عالیرتبه قاضی القضات، لوی څارنوال، رؤسای مجلسین شورای ملی و مقام های دیگر حضور داشتند.

رئیس جمهور غنی در سخنرانی‌اش در این کنفرانس گفت که به دلیل عدم دستگیری پیکان، شهرت افغانستان زیر سوال می‌رود؛ زیرا به گفته او پیکان یک نهاد سراسری را که نظم عامه بود، به منبع فساد مبدل کرده است.

او گفت که امر بازداشت پیکان باید عملی شود؛ زیرا دیگر تحمل آن را ندارد که مرکز عدلی و قضایی امر کند و اجرا نشود.

این در حالی است که لوی څارنوالی در ماه قوس سال ۱۳۹٦ گفته بود که محکمه ابتدایی مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، زمری پیکان را به هشت سال و شش ماه زندان تنفیذی محکوم کرده است.

مرکز عدلی و قضایی مبارزه با فساد اداری گفته بود که پیکان را به جرم سوء استفاده از صلاحیت وظیفوی و فراهم نمودن زمینه کشتن یک نفر، محکوم به مجازات کرده است.

## نړۍ




# چاووش اوغلو: د امریکا هر ډول بندیزونو ته به مناسب ځواب ورکړو

۳

## د قطر دفاع وزیر: د فارس خلیج د همکارۍ سازمان د غړو تر منځ بحران یوازې د خبرو له لارې هواریدای شي

د قطر دفاع وزیر خالد بن محمد العطیه ویلي چې د فارس خلیج د همکارۍ شورا روان کړکېچ یوازې له کوم قید پرته د خبرو له لارې هوارېدای شي.

هغه زیاته کړې چې هېواد یې د دغه کړکېچ په تړاو بیا بیا خپل دریځ روښانه کړی او یو ځل بیا ټینګار کوي چې روانې ستونزې یوازې له سوله ییزو لارو د حل وړ دي.



دا په داسې حال کې ده چې د سعودي په ګډون، پنځو عرب هېوادونو او د فارس خلیج د همکارۍ سازمان غړو په ۲۰۱۷ ز کال کې پر قطر تور پورې کړ، چې دغه هېواد له ترهګرۍ ملاتړ کوي او له همدې کبله یې خپلې اړیکې ورسره قطع کړې، خو دوحې بیا دغه تورونه رد کړي دي.

د قطر دفاع وزیر دغه راز زیاته کړې چې هېواد یې یوځل بیا هم په خپلې ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي ارادو کې پر ازادۍ ټینګار کوي او تیار دي چې پر دوو اړخیزو همکاریو ولاړ سیاست له لارې د فارس خلیج د همکارۍ سازمان له غړو هېوادونو سره خپلې اړیکې له سره ورغوي.

نوموړي دغه راز په خپلو ګاونډیو هېوادونو کې روانو ستونزو ته په کتو ویلي، چې عرب هېوادونه باید د دغو ناخوالو د هوارې لپاره تر بل هر وخت زیات سره متحد شي.

## په هند کې د تابعیت د نوي قانون پر وړاندې پراخ لاریونونه پیل شوي



په هند کې د هغه نوي قانون پر ضد پراخ لاریونونه روان دي، چې پر اساس یې د دریو هېوادونو مذهبي اقلیتونو ته د هند د تابعیت حق ورکول کېږي.

په ورته وخت کې د امریکا متحده ایالتونو له همدې امله ټولو امریکایي وګړو ته خبرداری ورکړی چې هند ته سفر ونه کړي. تر امریکا مخکې بریټانیا هم خپلو وګړو ته خبرداری ورکړی چې دغه هېواد ته د سفر پر مهال له احتیاطه کار واخلي.


د هند د تابعیت قانون د تعدیل پر اساس د افغانستان، بنګله دېش او پاکستان سیکان، هندوان او مذهبي اقلیتونه چې تر ۲۰۱٥ ز کال وړاندې هند ته تللي او مېشت شوي، د هند تابعیت ورکول کېږي، خو مسلمانان له دغه قانونه بیا مستثنی شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د هند په ځینو ختیځو ایالتونو کې ډېرې خلک وېره لري چې له بنګله دېشه به د کډوالو ستري جوپې ورشي او له همدې کبله یې پراخ لاریونونه پیل کړي دي. د هند حکومت په اسام ایالت کې د لاریونونو له امله پر انټرنېټ هم بندیز لګولی دی.

د بشري حقونو د ملاتړ ځینې ډلې او د اپوزیسیون ګوندونه هم پر دغه قانون اعتراض کوي او وایي چې د هند لومړي وزیر نریندرا مودي هندو نشنلېست ګوند په دې ډول د هند ۲۰۰ میلیونه مسلمانان منزوي کوي، خو مودي دا تورونه رد کړي دي.

## ژوند

## پر ماشومانو د سګرېټ د دود اغېز



هر کال تمباکو نږدې ٦ میلیونه کسان وژني. نوې څېړنه ښیي چې د سرطان له ناروغۍ پرته سګرېټ د انسان بدن له د ننه ورستوي؛ هډوکي سولوي، ماغزه او سترګې خرابوي او د ماشوم په پیدا کولو کې د ښځو او نارینه‌وو وړتیا کمزورې کوي. ایا پوهېدئ چې د سګرېټ بوی او دود پر ماشومانو څه منفي اغېز لري؟ نوې څېړنې ثابتوي، سګرېټ چې څومره په مستقیم ډول پر څکوونکي منفي اغېز لري، تر دې زیاتې غیر مستقیمې اغېزې هم لري. ډاکټره زهرا ابراهیمي وایي، دویم لاس دود هغه دود ته ویل کېږي چې له سګرېټ څکوونې پرته یې نور خلک تنفس کوي. نوموړې وایي، دویم لاس دود لږ تر لږه ۲٥۰ ډوله کیمیاوي مواد لري چې پنځوس هغه یې د سرطان لامل کېږي. ډاکټره زهرا همدا راز وایي، د سږو، پزې، سینې او د رحم دانې د هغو سرطانونو له ډلې دي چې د سګرېټ د دویم لاس له دود څخه پیدا کېږي. زهرا زیاتوي، په ماشومانو کې د تنفسي ناروغیو، د سږو تعفون، ستونې او غوږ ټولو ناروغیو اصلي لامل د سګرېټ دویم لاس دود دی چې تنفس کېږي. نوموړې وایي، په سګرېټو او قیلون کې شته نیکوتین د وینې د لوړ فشار، د زړه د ضربان د تېزېدو او په وینه کې د شکرې د زیاتوالي لامل کېږي.

## هڅه وکړئ چې د نورو لپاره ښه بېلګه و اوسی



نن سهار چې له کوره راتلم د سړک یوې ډلې کار کوونکو زما پام ور واړاوه. د کارګرو مشر ښه ورځ نه وه پیل کړې. کارګرو پر سړک باندې کار کاوه او ګڼه ګوڼه یې جوړه کړې وه. د یو ملي بس چلوونکي د ډېرې ګڼې ګوڼې له کبله یو پر بل پسې هارنونه وهل. د کارګرو مشر چیغه کړه او د سړک په غاړه ولاړې پایې ته یې لغته ورکړه. هغه یو غوسه ناک انسان و. وروسته یې پر خپلو کارکوونکو هم ور پړچ وهل، دوی ته ډېر په غوسه و او په یوه ساه یې خپلې لاړې ځمکې ته تف کولې. د یو لېونې په څېر یې چیغې وهلې. کارګران په داسې حال کې چې خپل سرونه یې ښکته ځړولي وو، پر کار بوخت وو. له ځان سره مې فکر وکړ، د کارګرو مشر به د روانو خلک په نظر څه ډول ورغلی وي؟ خپل قهر او ناولې غوسه یې په عام محضر کې د سړک د پاسه نورو ته ښودله. کېدای شي نن په ورین تندي کور ته هم لاړ نه شي. کېدای شي چې خپلو اولادونو ته هم په غوسه شي او چیغې ورباندې وکړي. داسې ژوند وکړئ چې د خلکو لپاره یوه ښه بېلګه و اوسی، نه د نفرت نمونه.